# رارسیدنه او نور.

## د کډوالو لپاره معلوماتي لارښود
## د ولایت د هرکلي په مرکزونو (LAE) کې
## سیکسني-ان هالټ

- لومړی هرکلی
- پناه
- له ټولنې سره د یوځای کیدو وړاندیزونه



## قانوني خبرتیا

خپروونکی: فارن کارپوریشن سیکسني – ان هالټ ، وي.
او د سیکسني – ان هالټ د حکومت له ټولنې سره د یوځای

د کوځي ادرس: *einewelt haus*
Schellingstraße 3-4 | 39104 Magdeburg

متن او ایډیټنګ: ډاکټر ارنست ستاک مین
مسؤل: مایکل مارکورډ ، د AGSA رئیس (CEO)
ډیزاین / نخشه: میتیس ریم
څرګندوني / انځورلیک: کا شمتز

د دي رسالې خپروونکي د پناه د کړنلارې د کارکوونکو څخه د هل برسټې په مرکزي نکته کې د مشاورت او د ZASt ، د برابروني لپاره د ښاغلي E. Stein څخه د دې نسخې په تیارۍ کې د مرستي او همکاري ډیره مننه کوي.

لومړی ګڼه 2015
© ټول حقوق خوندي دي

AUSLANDS-GESELLSCHAFT Sachsen-Anhalt

SACHSEN-ANHALT
Die Integrationsbeauftragte

WELTOFFEN WILLKOMMEN Sachsen-Anhalt

# پخیر راغلئ

سیکسني — ان هالټ ته پخیر راغلئ!

تاسې د هیواد د هرکلي مرکز ته رارسیدلي یاست او اوسمهال د پناه د بهیر په پیل کې یاست. مونږ هیله لرو چې تاسې به د تیښتنې وروسته دلته څه ارام وکړی او هوسا شی او د خپل ځان لپاره به د نوي تصوراتو جوړولو فرصت ولری. سیکسني — ان هالټ یو نړیوال دولت دی. مونږ له تاسې سره په دې موخه مرسته او همکاري کوو چې د کډوال په توګه تاسې سمدلاسه له ټولنې سره دننه او د باندې په ښه توګه یوځای شئ. ګڼ شمیر خلک په دې همکارۍ کې رضاکارانه برخه اخلي او خپله مرسته وړاندې کوي.

د هرکلي په مرکز او د پناه په بهیر کې د پیژندګلوۍ او هرکلي د اسانۍ لپاره په لاندې پاڼو کې هغه د پام وړ معلومات شامل کړی شوي دي کوم چې مونږ ستاسې د استوګنې د لومړۍ پړاو په اړه راټول کړي دي (د 12/2015 څخه).

کارکوونکي او رضاکاران د اوسیدلو د ښه او مناسب وضعیتونو لپاره خپل ستر مسؤلیت پوره کوي. مونږ دلته ستاسې له مرستې لپاره موجود یو. د زیات ورځني فعالیتونو او غوښتنو له کبله ښایي فعالیتونه وځنډیږي یا په موقتي توګه ګډوډ شي. په دغه وضعیت کې مونږ له تاسې څخه هیله لرو چې د صبر او پوهې نه کار واخلئ.

حتی تاسې هم د خپلې هرکلي په مرکز کې کولی شی چې د بیلابیلو اتباعو او کلتورونو د خلکو په موجودګی کې خپله مرسته او همکاري وړاندې کړی. که څه هم تل دا اسان نه وي ، خو تجربه ښایي چې: په درناوي او شریکې همکارۍ زیاتې ستونزې په ګډه سره حل کیدی شي. مونږ هیله لرو چې په دې معلوماتي لاربښود کې به تاسې د پام وړ ځوابونه ومومی او تاسې به د دې په ذریعه له هغه کسانو سره په تماس کې شی کوم چې له تاسې سره په نورې لاربښودنې کولو کې مرسته کولی شي.

**ستاسې د سفر او راتلونکي لپاره ،**
**مونږ ستاسې لپاره نیکې هیلې غواړو.**

# 1

# په سیکسني — ان هالټ کې د هرکلي مرکزونه (LAE)

## مقررات — سپلایي - وړاندیزونه

### د هیواد د هرکلي مرکزونه (LAE)

که تاسې المان ته د ساتنې او ژغورنې د غوښتونکي په توګه راغلي یاست او د پناه لپاره عریضه کول غواړۍ ، تاسې قانوني حق لرۍ او په دې موخه د المان په دولت کې د موقتي استوګنې لپاره د ونډې سستم تحمیل شوی دی ، چې دغه د هرکلي مرکزونه (LAE) بلل کیږي. اوسمهال په سیکسني — ان هالټ کې د هرکلي ګڼ شمیر مرکزونه دي: **په هل برستټ ، هله ، میکدیبرګ ، ستندل** او د بدلون پراساس په اړوند سیمه ییز دفترونو کې.

ستاسې ابتدایي استقبال د هیواد د هرکلي په مرکزونه (LAE) کې د پناه غوښتونکي په توګه (ثبت) کیږي. که ستاسې د اصلي هیواد څخه پناه غوښتنلیکونه په سیکسني —ان هالټ کې نه شي ترسره کیدی ، تاسې به مناسب الماني دولت ته واستول شۍ.

د هرکلي په مرکزونه (LAE) کې به تاسې ته ځای ، خواړه او د ژوند نور اړین شیان درکول کیږي. تاسې به دلته ترهغه پورې اوسیږۍ ترڅو چې د مهاجرت او کډوالو لپاره فدرالي دفتر (Bundesamt یا BAMF) ستاسې د غوښتنلیک پروسه مخ پروړاندې بوځي او تاسې یوې ټولنې ته وسپاري او انتقال شۍ.

**!** ستاسې د هرکلي په لمړي مرکز کې د لارښوونې لپاره ټول د پام وړ معلومات په دې کتابګوټي کې ورکړل شوي دي.




د فدرالي استقبالیې اسانتیا = LAE

## تاسې باید پخپل ځای کې پاتې شی

په دغه ځای کې د استوګنځي مسؤلیتونه (چې زیاتره ورته د ځای مقررات هم ویل کیږي) تطبیق کیږي. د دې معنی دا ده چې تاسې یواځې په ټاکلي ځای (ولسوالي یا د ولایتي کچې ښار) کې د پاتې کیدو اجازه لرئ. د استوګنځي د مسؤلیتونو سره به دولتي چارواکي هر وخت تاسې ته د رسایۍ وړ وي او تاسې به هم مهم اسناد په مناسب وخت ترلاسه کولی شئ.

که تاسې د خپلو خپلوانو سره ملاقات کول غواړئ ،د مثال په توګه ، یا د نورو موخو لپاره د هرکلي مرکز پرېښودل غواړئ ، نو باید د فدرالي دفتر (Urlaubsschein) څخه د اجازې لپاره عریضه وکړئ. که تاسې پرته له اجازې د دغه ځای څخه لاړئ ، نو جریمه کیږئ به ، او د دغه سرغړونې د تکرارولو په حالت کې به ستاسې خلاف قانوني اقدام کیږي.




## د پاتې کیدو موده

د هرکلي په مرکز کې قانوناً د زیاتو نه زیات د شپږو میاشتو لپاره قیام کیدی شي. دلته د پاتې کیدو په اړه د دقیق وخت اساس د موجود ځایونو پورې تړاو لري. په سیکسني- ان هالټ کې اوسمهال دا تقریباً څلور اونۍ وي.

د سربیا ، بوسنیا ، مقدونیه ، مانټي نیګرو ، کوسوو او البانیه خلک عموماً د هرکلي په مرکز کې ترهغې پورې پاتې کیږي ترڅو چې د پناه جریان بشپړ شوی نه وي ، ځکه چې هغوی د قبلونې کم امکان لري.

## اوسیدنه

تاسې باید په  خپل لومړي ملکیت کې په ښه توګه د اوسیدو وړ یاست. زیاتره کسان د لیلیې په کوټو کې پاتې کیږي. په دغه سیمه کې د ځای د ګنجایش پراساس تاسې په موقتي توګه په کور کې (د اوسیدو

کانتینرې یا په اوړي کې په خیمو کې) هم ځای کیدلی شی. په هر حال کې به تاسې د ژمي څخه ژغورل کیږی. هغه ښځې چې یوازې یا د خپل ماشومانو سره راغلي وي ، هغوی ته بیل ځای ورکول کیږي.

## د بې سرپرسته کم عمر ماشومانو ساتنه

زیاتره (د 18 کالو نه کم عمر) ماشومان **پرته له خوندیتوبه** یا په المان کې **د زده کړې لپاره مستند اوسیدونکی** ، په ځانګړي توګه حساس او کمذوری وي او د دې له کبله کله چې هغوی راورسي نو سمدلاسه **د ځوانانو د خیر ښیګړې مناسب دفتر ته بووستل کیږي**. هغوی د هرکلي په لومړي مرکز کې نه پاتې کیږي ، خو ولې د ځوانانو د خیر ښیګړې دفتر  یې پاملرنه کوي او هغوی ته مشوره او ځای ورکوي.




Jugendamt =  د ماشوم ساتنې خدمت



## ولایتونو ته لیږل (انتقالول)

کله چې د پناه د جریان لومړی پړاو سرته ورسي ، تاسې ته به معلومه شي چې کومه ښاروالي به په راتلونکي کې ستاسې مسؤلیت پرغاړه اخلي. په سیکسني —ان هالت کې ستاسې د قیام په اړه شخصي غوښتنو ته به اوسمهال پام نه کیږي. خو ، که په لومړۍ مرحله کې کورنۍ اړیکه لرۍ (لکه ، ماشومان ، والدین ، کوچنیان ، خویندې وروړه ، د کم عمرو لپاره هم د 18 کلونو ځخه زیات خویندې وروړه) نو قانوني ادعا کیدی شي چې تاسې د خپلې کورنۍ ځای ته تللی شۍ.

## د شخړې یا تصادم په حالت کې اقدام

په یو محدود ځای کې په شریکه اوسیدل د شخړو لامل هم کیدی شي. لطفاً چې څومره ممکن وي په داسې وضعیتونو کې سوله او ارامي ساتۍ. پخپلو کې د اړوندو ډلو شخړې هواروئ. د خطرناک وضعیتونو خبر پرته له ځنډه ټولنیز کارکوونکو یا ټولنیز مرسته کوونکو ته ورکوئ. په بیړني حالت کې سمدلاسه د امنیتي خدمت یا پولیسو سره اړیکه ټینګه کړئ.

که په تاسې تشدد شوی یي ، نو د مرستې او لارښوونې لپاره د قرباني ګرځنده مشاورت ته لاړ شئ.

## د هرکلي په لومړي مرکز کې سپلايي

### خدمتونه

تاسې به د خپل هرکلي په مرکز کې قانوني مرسته ترلاسه کوئ. **تاسې به لاندې ډول ګټې** ترلاسه کوئ:

- د سبانارۍ ، غرمې ډوډۍ او سپک خوارو لپاره د خوارو لستونه
- د بسترې او صفايۍ سامان
- کالي

تاسې به د شخصي استعمال لپاره **جيب خرچه** هم ترلاسه کوئ. دا به د نغدو پيسو په شکل کې ورکول کيږي او د پوره عمر تن لپاره د دې حساب کيږي. د کورنۍ په وضعيت کې به يواځې يو تن پوره مقدار پيسې ترلاسه کوي او د کورنۍ نور غړي به کم مقدار پيسې ترلاسه کوي.









## طبي پاملرنه

د معمولي ناروغۍ په وضعیتونو کې د خپل مرکز د طبي سپلایۍ ځانګې ته لاړ شئ. په دغه ځای کې به د ورځې په وخت کې تل ډاکټر موجود وي.





د معمولي ناروغۍ په وضعیتونو کې به ډاکټر د هیواد د هرکلي په مرکزونه (LAE) کې د بل ډاکټر سره تاسې ته نور درمل ولیکي او د تدواي تصدیق نامه به صادره کړي.
**د مزمن ناروغۍ لپاره تاسې د تداوي تکټ ته اړتیا لرئ. تاسې باید د دې لپاره ځان ثبت کړئ او د خپل ډاکتر سره د معاینې د مخه د تولنیز دفتر څخه دغه تکټ ترلاسه کړئ.**

د ذهني ټکان د مرستې لپاره (د کومه حده پورې چې د ولایت د هرکلي په مرکزونه (LAE) کې دستیاب وي)، په هله او میګډییرګ کې د ذهني روغتیا خدمتونه او د ذهني تولنیز چلند او فکتورونو مرکزونه دستیاب دي. که اړتیا وي نو تاسې باید د ملاقات لپاره مخکې وخت واخلئ.

هله ، میګډیبرګ یا هل برستټ کې د ایډز هیلپ (مرستې) ته زنګ ووهئ.

## د لومړي هرکلي په مرکز کې وراندیزونه

### شخصي تفریح

د مناسب وخت لپاره ارام وکړئ څو د خپلې **پناه د بهیر یا اوریدنې لپاره ځان چمتو کړی**. تاسې د سیمه ییز مشاورت د برخو څخه هم استفاده کولی شی، کوم چې هغوی د دې لپاره وړاندې کوي.

**آیا تاسې الماني زده کوی**. ستاسې په مرکز کې عموماً د الماني ژبې زده کولو فرصت وي.



خپلو کوچنیانو ته د نورو ماشومانو سره د لوبو کولو او اړیکې نیولو فرصتونه ورکړئ. د هرکلي په ټولو ابتدایي مرکزونو کې د ماشومانو لپاره فعالیتونه ترسره کیږي.

**د لومړني پیژندګلوی لپاره د وراندیزونو** څخه استفاده وکړئ. حتی د هرکلي د ابتدایي مرکز څخه د باندې هم (لکه ، په ټولنیز ولایتي پوهنځی کې) تاسې د ورځني ژوند یا پیژندګلوی په موخه د الماني ژبې د زده کړې په کورسونو کې د حاضرۍ کولو امکان لری. یادونه: لطفاً مخکې پوښتنه کوی چې آیا د دغه کورسونو پیسې اخیستل کیږي.

که تاسې په **خیراتي کار** کې شرکت وکړی (لکه ، ترجمه ، په پروګرامونو کې مرسته ، صفایي ، ترمیمونې او داسې نور)، نو تاسې د خپل شخصي اوسیدو په چاپیریال ښه کولو کې برخه اخیستلی شئ او خپل جیب خرچه زیاتولی شئ.

## د مسلکي لیاقتونو کتنه کیدی شي

د ګومارنې فدرالي اداره وړاندیز ورکوي چې د هرکلي په ابتدایي مرکزونو کې د خپل مسلکي لیاقتونو تعین وکړئ. که د کارګرانو په مارکیټ کې ستاسې کار ته اړتیا وي نو د **کارګر د مارکیټ چټک مشاورت** او د قبلونې لپاره به **منځګړتوب او مشاورت** ترسره کړی شي. که ستاسې لیاقتونه د سیمه ییز کارګر د مارکیټ ځانګړي شرایط پوره کوي نو په اړوندې ښاروالۍ کې د ګومارنې امکان هم موجود وي.

په ځانګړي توګه ، که تاسې د مخکې نه مسلکي روزنه یا زده کړې بشپړې کړې وي ، نو تاسې کولی شئ چې د هرکلي په ابتدایي مرکز کې د لیاقت او ورتوب د ارزونې څخه استفاده وکړئ.




Ausbildung = روزنه

# 2 د پناه بهیر

## د پناه اساسي حق

د پناه حق یو نړیوال اساسي حق دي. د المان په فدرالي جمهوریه کې دا د اساسي قانون برخه ده (ماده 16 ای: "په سیاسي توګه استفاده شوی د پناه حق"). که تاسې د خپل اصلي هیواد نه د سیاسي تعقیب له کبله په مستنده توګه راتښتیدلي یاست یا هلته مو د نورو علتونو له کبله ژوند په خطر کې و، نو د پناه د ادعا کولو حق لرئ.
همدارنګه، المان د جنیوا کنونشن سره په الحاق دا ژمنه کړې چې کډوالو ته به د نړیوالې ساتنې اجازه ورکوي.




د پناه حق = Recht auf Asyl

## تاسې ولې د پناه لپاره عریضې ته اړتیا لرئ

د مهاجرت او کډوالو لپاره فدرالي دفتر ( BAMF یا فدرالي دفتر') د پناه د علتونو مشاهده کوي. دغه مشاهده یوازې ستاسې د شخصي پناه د غوښتنلیک پراساس ممکن وي. تاسې باید چې څومره ژر ممکن وي هغه فدرالي دفتر ته د پناه لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ کوم چې ستاسې په لومړي مرکز کې د دفتر څانګه لري یا په دغه ودانۍ کې موقعیت لري.
د غوښتنلیک په بهیر کې به تاسې ته ستاسې د پناه د کړنلارو لپاره ستاسې د حقونو او مسؤلیتونو په اړه خبر درکړل شي. دغه معلومات به تاسې ته په لیکلي بڼه ستاسې په مورنۍ ژبه کې درکول کیږي. فدرالي دفتر به ستاسې د شخصي پریکړه کوونکي سره د ملاقات لپاره ژباړونکي ته بلنه ورکوي. تاسې د دې ملاقات لپاره خپل وکیل یا بل کوم باوري تن راوستلی شئ.




## د مهاجرت او کډوالو لپاره فدرالي دفتر (BAMF)

په المان کې د پناه غوښتنلیک یواځې په فدرالي دفتر کې سپارل کیدی شي. فدرالي دفتر محکمه نه ده بلکه صلاحیت لرونکي مقامات دي. دا تصدیقوي چې تاسې په خپل اصلي هیواد کې تعقیبول کیږی او آیا که تاسې خپل هیواد ته واپس ستانه شی نو د تعقیبونې او خوروني خطر لری او کنه. که تاسې د تعقیبونې له کبله اغیزمن کیږی ، دا په دې باور لري چې آیا تاسې په خپل اصلي هیواد کې حکومتي دفاع ترلاسه کړې او کنه. دا تعین به هم کیږي چې آیا تاسې د خپل هیواد په کومه بله سیمه کې دفاع او ساتنې موندلی شی. فدرالي دفتر به یوه دوسیه پرانزي او ستاسې شخصي معلومات به ثبت کړي. که ستاسې عمر 17 کلن وي نو عکس او د ګوتو نښې به مو واخیستل شي.

## د پناه په غوښتنلیک کې څه غوښته کیږي؟

که تاسې د پناه لپاره عریضه وکړی ، نو تفصیلاً به د بشري ساتنې علتونه وپلټل شي. که د نړیوالې ساتنې اجازه نه وي ورکړل شوي ، تاسې به د پناه وړ نه منل کیږی ، فدرالي  دفتر دا پریکړه کوي چې آیا د استوګنځي د قانون د § 60 پاراګراف. 5 یا پاراګراف 7 سره سم په شړلو بندیزونه موجود دي. ترڅو چې د پناه جریان روان وي ، تاسې ته به په المان کې د پاتې کیدو اجازه درکول کیږي.

## د استوګنځي اجازه

د پناه په جریان کې به تاسې د خپل هویت سند ، د اوسیدنکي اجازه د فدرالي دفتر څخه ترلاسه کړی. تاسې باید تل دغه اجازت نامه له ځان سره ګرځوی او پولیسو ته یې د هویت کتنې پرمهال ښایی. په دغه اجازت نامه کې هغه سیمه ورکړل شوي وي په کوم کې چې تاسې ته د پاتې کیدو اجازه درکړل شوي وي. کله چې تاسې د فدرالي دولت د هرکلي تولنې ته انتقال کړل شی ، ستاسو د ادرس د بدلون په اړه به سمدلاسه فدرالي دفتر ته  خبر ورکړل شي.

## د استوګنځی اجازه

د ابتدايي هرکلي په مرکز کې د پناه د کړنلارو (کیریتاس) لپاره د مشاورت مرکزونه موجود وي. تاسې د مشاورت په دغو مرکزونو کې د پناه د بهیر په ټولو مرحلو کې خپل حقونه او مسؤلیتونه کتلی شی. حتی تاسې خپل هیواد ته د رضاکارانه بیرته ستنیدنې او کډه کیدنې د انتخاب په اړه شخصي مشوره هم ترلاسه کولی شی. دغه مشاورتي مرستې وړیا وړاندې کیږي ، چې نامعلومه وي او د مذهبي تړون څخه خپلواکې وي.

د پناه د جریان په اړه د BAMF له خوا وړاندې کیدونکي معلوماتي ویډیو (په 10 ژبو کې) هم تاسې د اوریدنې لپاره چمتو کوي. لطفاً د خپل هرکلي په ابتدايي مرکز کې پوښتنه وکړئ چې دغه کوم ځای ښودل کیږي.

## اوریدنه

د محکمې اوریدنه کومې ته چې اکثر "مرکه" هم ویل کیږي د لومړي ځل عارضینو لپاره تر ټولو مهم فرصت وي چې د خپلې تیښتې د علتونو وضاحت وکړي. فدرالي دفتر به دا پریکړه کوي چې آیا د اوریدنې پراساس په المان کې د ساتنې اجازه ورکړل شي او کنه.

! لطفاً په یاد ساتئ: اوریدنه ستاسې لپاره لومړی او یوازینی لار ده چې د پناه د حق لپاره شخصي مقاصد برابر کړی. د دې خبرو اترو او بحث په اهمیت ځان پوهه کړئ او د اوریدنې لپاره ځان په ښه توګه چمتو کړئ.




Termin = د کتنې وخت

Info = معلومات

Antrag auf Asyl = د پناه لپاره غوښتنلیک

اوریدنه د ګنجایش پراساس د غوښتنلیک سپارلو نه وروسته د یو څو ورځو نه تر څو میاشتو پورې په موده کې ترسره کیدی شي. فدرالي دفتر په لیکلي بڼه تاسې ته "د § 25 د پناه د کړنلارې د قانون سره سم د اوریدنې" بلنه درکوي. په دغه اوریدنه کې ژباړونکی موجود وي. فدرالي دفتر د مخکې نه د هغه ژبې څخه خبر کړئ په کوم کې چې به اوریدنه ترسره کیږي.

په دغه اوریدنه کې 25 پوښتنې ورکړل شوې وي. له تاسې څخه به ستاسې د اصل، د خپل هیواد د پریښودلو علتونه او ستاسې د راتګ د سفر د لارې په اړه معلومات ترلاسه کیږي. په رښتینې او بشپړه توګه ټول پوښتل شوي معلومات وسپارئ. پریکړه کوونکی به له هغه معلوماتو سره د موافقت کتنه کوي کوم چې تاسې د ثبتیدو پرمهال ورکړي و. د اوریدنې ټولې څرګندونې په ژباړل شوې نسخه کې وګورئ چې صحیح دي او په خپل لاسلیک کولو یې تائید کړئ.

! احتیاط: لطفاً دا یقیني کوئ چې د کورنۍ د ټولو غړیو د نومونو دقیقه املا وګورئ او صحیح وي!

## د فدرالي دفتر پریکړه

فدرالي دفتر به د پناه لپاره ستاسې د غوښتنلیک د پریکړې (نظر) څخه تاسې په لیکلي بڼه خبر کړي. پریکړه باید په انصاف او قانوني مرستې سره شوې وي. په دغه مرسته کې دا ورکړل شوې وي چې آیا تاسې پریکړه کتلی شئ او څنګه یې کتلی شئ او دغه پریکړه چیلنج کولی شئ.

د مثبت پریکړې په حالت کې به تاسې د **استوګنځې اجازه** ترلاسه کړئ. د پریکړې پراساس دغه اجازه په لومړئ کې د یو نه تر دریو کالو پورې ورکول کیږي. د غوښتنلیک د ردونې په حالت کې به تاسې د هیواد **پریښودنې یو امر** او **شړنې اخطار** ترلاسه کړئ چې د دغه اخطار له کبله تاسې د کډه کیدلو مسؤل یاست. که د هیواد څخه شړنه ممکن نه وي ، نو ایلینز اداره په موقتي توګه د **کالنې** اجازه (د هیواد څخه د شړنې موقتي ځنډونه) ورکړي.

که تاسې د مشورې د مرکزونو څخه استفاده کوئ ، هغوی به تاسې ته د BAMF د پریکړې او پایلو په اړه معلومات درکړي.




پناه = Asyl

## قانوني نمايندګي

تاسي په محکمه کې د فدرالي دفتر د پریکړې خلاف استیناف کولی شی. عارضین باید په استیناف کې ممکن مرستې او وروستنۍ نیټې نوټ کړي. لطفاً په یاد ساتئ چې که تاسي کوم اعتراض کول غواړئ نو باید په چټکۍ سره اقدام وکړئ.
حتی په هغه وضعیت کې هم کله چې تاسو یو وکیل ګومارل غواړئ ، تاسې باید دغه اقدام ژر تر ژره ترسره کړئ. په سیکسني — ان هالټ وغیره کې د پناه په جریان کې — د کیریتاس او کډوالو د شورا له اړخه د پناه په کرنلارو کې د وکیلانو د وړیا مشورې وړاندیز کیږي.



## رضاکارانه ستنیدنه

که تاسي غواړئ چې د دې هیواد څخه ووځئ یا خپل کورني هیواد ته ستنیدل غواړئ ، رضاکارانه ستنیدنه د جبري ستنیدې په پرتله د کمې شخړې او خوندي بدیل وړاندیز وړاندې کوي.
فدرالي دولت د REAG / GARP پروګرام د رضاکارانه ستنیدنې لپاره د کومکي پروګرام په توګه وړاندې

کوي. د رضاکارانه ستنیدنې لپاره د پیسو یا نورې مرستې قانوني ادعا موجود نه ده.
د کرنلارې د جریان په اړه د مشاورتي مرکزونو د کارکوونکو سره خبره وکړئ. هغوی به له تاسې سره د غوښتنلیک په پروسه او د رخصتۍ په انتظام کې مرسته وکړي.

# 3

## ښاروالۍ ته رارسیدل –
## له ټولنې سره د یوځای کیدو وړاندیزونه



### استوګنځیونه

کله چې د هرکلي لومړی مرکز  په لیلیه یا اپارتمان کې ستاسې د استوګنې مسؤلیت واخلي ، ښاروالي به د دې لپاره ستاسې مسؤل وي.  هغه کورنۍ چې ماشومان ورسره وي هغوی عموماً اپارتمان ژر ترلاسه کوي. د یوازې سفر کوونکي کډوالو نه یوه کوچنۍ ډله جوړه کړی شي یا په ارتمان کې په شریکه ټولنیز ژوند کوي.

### د تماس تن

په ټولنه کې ستاسې د تماس نیونې مرکزي کسان هغه ټولنیز کارکوونکي دي کوم چې په لیلیه یا اپارتمان کې ستاسې پاملرنه کوي. په لومړي ورپیژندنه کې ستاسې سره د مرستې لپاره د سیمه ییز هرکلي په پروګرامونو کې د رضاکارانو یا سرپرستانو څخه مرسته ترلاسه کوي.  د مهاجرت د مشورې مرکزونه عموماً په ټاکل شوي خلاص ساعتونو کې د مشاورت مرسته وړاندې کوي. دلته به تاسې د پناه د کړنلارې ، د مهاجرت د قانوني موضوعاتو ، ټولنیز خدمتونو او ژبې د پرمختګ ، زده کړې او استخدام په اړه د ماهرانو مرسته ترلاسه کوی. سمیه ییزې اتحادیې او کلوبونه هم موجود دي. په دې کې عمومي معلومات ، د کتنې ځای ، کلتور ، لوبې او ژبې د کورسونو په اړه معلومات ورکول کیږي.

په ستر ښارونو کې کډوال د کډوالو موسسو ته راټولیږي. په تاسې کې به زیاتره کسانو ته دا معلومه وي چې دا څومره مشکل ده چې راورسیږی او د نور نوي راتلونکو کسانو سره په ژباړو او پیژندنو کې مرسته وکړی. د کډوالو د موسسو دولتي شبکې (Lamsa) ته عریضه وکړئ. هغلته تاسې مستقیماً کتلی او معلومولی شی چې ستاسې په ګاونډ کې د کډوالو کومې موسسې موجودې دي.

## الماني ژبه زده کړئ

چې څومره ژر ممکن وي الماني ژبه زده کړئ ، دا به له تاسې سره په المان کې په ټولنيز ژوند کې په برخه اخيستلو کې مرسته کوي. هغه ټول مهاجرين او کډوال چې د استوګنې دايمي اجازه لري **د فدراسيون له ټولنې سره د يوځاى کيدو په کورسونو کې د شرکت کولو** مستحق دي. په دغه کورسونو کې 600 ساعته ژبه ښودل کيږي او 300 ساعته د پيژندګلوۍ کورس ښودل کيږي. په دې کورسونو کې د الماني ژوند په اړه د مقرراتو ، حقونو ، مسؤليتونو او عملي زده کړې ښودنه ترسره کيږي.

د شام ، ايريتريا ، عراق پناه غوښتونکي د پناه په جريان کې د مخکې نه له ټولنې سره د يوځاى کيدنې په کورس کې شامليدى شي (د 12/2015 څخه). د داسې کولو لپاره تاسې بايد د BAMF څخه غوښتنه وکړئ. لطفاً د دې په اړه معلومات د ټولنيز کارکوونکي يا کونسلر څخه ترلاسه کړى.
په دې کې د انټري ليول پوزسيونونه هم دي: اساسي کورس ، لينګويج کيفي ، لينګويج سپانسرشپ يا د کلوبونو څخه رضاکارانه وړانديزونه. تاسې د خپل ټولنيز کارکوونکي څخه هم دا معلومات ترلاسه کولی شی چې تاسې په دغه ځاى کې د ژبې د مرستې کوم انتخابونه استعمالولی شی. همدغه ډول ، ژبه ييز کورسونه ښايي د کار د لټون او روزنې سره مربوط وي. د دې له کبله لطفاً د کار د مرکز يا د ګومارنې د اداري سره رجوع وکړئ.




ICH - DU - WIR = مونږ - تاسې - زه

## د مسلکي لیاقتونو په رسمیت پیژندل

په المان کې اکثر د یو مسلک لپاره مستندې مسلکي دګرۍ ته اړتیا وي. که تاسې مسلکي روزنه ترسره کړې وي یا د پوهنتون دګرۍ لرئ ، نو په یاد ساتئ چې د مقاماتو لخوا دغه لیاقتونه تصدیق کیږي. که تاسې د دې خدمت څخه استفاده نه شئ کولی چې د هرکلي په ابتدایي مرکز کې د خپل مسلکي لیاقتونو تصدیق وکړئ ، نو خپلې سیمه ییز تولنې ته په رارسیدلو سمدلاسه د ټولنیز کارکوونکي یا کونسلر سره اړیکه ټینګه کړئ. هغوی به تاسې ته د فدرالي ګومارنې د ادارې د ورتوب د ارزونې په اړه معلومات درکړي. د زده کړې ، روزنې ، مسلک او مطالعې د بشپړتیا او کار د تجربو په اړه به په ګنو ژبو کې سوالنامې وړاندې کیږي. که ستاسې د لیاقت پروفایل څرګند کړی شو ، نو تاسې د دې د تصدیقولو او

منلو لپاره باید د امکاناتو په اړه مشوره ترلاسه کړئ. د ایي کیو شبکې د مشورې د اړوند مرکزونو سره تماس ونیسئ. مشاورین به له تاسې سره ګام په ګام **د خارجي لیاقتونو د تصدیقولو او په رسمیت پیژندلو** په دې مشکل مرحله کې مرسته او کومک کوي.

## په کار کې له ټولنې سره یوځای کیدل

د استوګنځي د اجازې سره د منل شوي کډوال په توګه تاسې د کار بې بندیزه اجازه لرئ. که ستاسې د غوښتنلیک پروسه لا روانه وي یا تاسې د ګالنې وضعیت لرئ ، تاسې د دریو میاشتو د اوسیدو ورسته سمدلاسه د کار اجازه ترلاسه کولی شئ او د دې لپاره د مهاجرت دفتر ته عریضه وکړئ. د ګومارنې فدرالي اداره به کتنه ترسره کړي او یوازې به هغه مهال موافق کیږي چې د دغه کار لپاره هیوادنې کاندیدان نه وي (د لومړیتوب کتنه) او د ګومارنې مرکز قانوني معیارونه پوره کوي.
د سیکسني — ان هالټ ولایت په چټکۍ د ورتوب ارزونه او په کار کې له ټولنې سره د یوځای کیدنې عمل په نظر کې نیسي. د کارګر د مارکیټ په مشاورت کې زیات همکاران په شریکه کار کوي. په دې اړه نور معلومات د ګومارنې د فدرالي ادارې (BA) ، په کرافټ غونډه او د سوداګرۍ په غونډه کې د مهاجرت د مشاورینو څخه ترلاسه کیدی شي. ګن شمیر کلوبونه په مشاورت کې مرسته کوي ، لکه د پروژې شبکه جاب بریج پلس ، ده نیټ ورک ایي کیو ، د سټیټ انیشیټیو "پروفیشنل فوکس" او د کډوالو د موسسو دولتي شبکه (Lamsa eV). د خپل وړ مشاور یا متخصص مشاورینو سره په دې اړه مشوره وکړئ چې د کارګر د مارکیټ سره یوځای کیدنه به ستاسې لپاره کوم فرصتونه رامنځته کوي.

**یادونه:** د ژبې مهارتونه نه لرل یا کم مهارتونه لرل اکثر د کارګر سره د مارکیټ په یوځای کیدنه کې ترټولو ستر مشکل جوړیږي. له دې کبله خپل پوره کوشش کوئ چې څومره ژر ممکن وي د المانی زده کولو د ټولو فرصتونو څخه پوره استفاده وکړئ.

## ماشوم ساتنه

په المان کې هر ماشوم په چایلډ دی سنټر (Kita) کې د مرستې حق ، په شریکه د زده کړې او د نورو ماشومانو سره د لوبې کولو حق لري. ستاسې هغه ماشوم هم دغه حق لري چې ولایت یا د ولایتي کچې ښار ته سپارل شوی وي. چایلډ دی سنټر ته په تګ سره د الماني ژبې په زده کړه کې پرمختګ کیږي او د نورو ماشومانو سره اړیکې جوړیږي. ستاسې ټولنیز کارکوونکی/کارکوونکې به له تاسې سره په کیټا (Kita) کې د شاملیدو د غوښتنې لپاره مرسته وکړي.

## د ماشومانو لپاره د ښوونځی زده کړه

په المان کې ماشومان د زده کړې حق لري او په شپږ کلن کیدو قانوناً باید ښوونځی ته داخل کړی شي. د دې له کبله ستاسې د ماشوم لپاره به هم دغه د لازمي زده کړې عمومي سستم وي. په سیکسني — ان هالټ کې په زیاتره ښارونو کې د ژبې او وینا د ځانګړې اړتیاو پوره کولو صنفونو ښوونځې موجود دي. په دغه ښوونځی کې ستاسې ماشوم به اول الماني ژبه زده کړي او بیا به د نورو ماشومانو سره خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. ستاسې ټولنیز کارکوونکی/کارکوونکې به تړتولو نږدې ښوونځیو په اړه تاسې ته معلومات درکړي او د غوښتنلیک په پروسه کې به درسره مرسته وکړي.




ښوونځی = Schule

## ښوونه او روزنه:

که تاسې د مخکې نه دکري لرئ ، نو په دې اړه مشوره ترلاسه کړئ چې کوم فرصتونه ستاسې لپاره موجود دي. په المان کې د زیاتو مسلکونو لپاره روزنه د "غبرګ روزنې" په توګه ترسره کیږي. دغه روزنه عموماً درې کاله دوام کوي. په دې کې د سوداګرئ عملي روزنه او په مسلکي ښوونځی کې غیرعملي زده کړه شامله وي. تاسې د کار کومارنې په مرکزونو کې مشوره ترلاسه کولی شئ یا د کډوال د دولتي شبکې د موسسو سره تماس نیولی شئ. دولتي شبکه د ځوان کډوالو سره د روزنې د مرکز په لټون کې مرسته کوي او په روزنه کې ورسره هم همکاري کوي.
که تاسې د پوهنتون د داخلې لیاقت (Abitur) لرئ یا مو د مخکې نه زده کړه پیل کړي وي نو په سیکسني — ان هالټ کې په پوهنتون کې هم زده کړه کولی شئ. پردې اساس چې تاسې په کوم کورس کې علاقه لرئ ، لطفاً په زیګسن — ان هالټ کې عالي ښوونځیو ته د نړیوالې زده کړې دفترونو ته زنګ ووهئ.

## د ښځو لپاره ځانګړې ساتنه

د هغه یوازې ښځو او د هغوی د ماشومانو لپاره چې د تشدد سره مخ شوې وي یا د ساتنې ځانګړې اړتیاوې لري ، د کډوالو ښځو پناګاه په هله کې موجود ده. هلته ته د تګ شرط دا دی چې د موقتي استوګنځی اجازه یا د پاتې کیدو فوق العاده اجازه ولرئ. په دغه ځای کې به تاسې د تیري څخه ژغورنه ترلاسه کوئ او د ځان لپاره د تاکل شوي ژوند په برابرولو کې به د شخصي بحران مرسته ترلاسه کوئ او د ورځني فعالیتونو او موضوعاتو د برابرولو به ور یاست.




Schutz für Frauen = د ښځو پناګاه

## په توکمي بنیادونو په ترسره کیدونکي بریدونو کې مرسته

که تاسې په توکمي بنیادونو د تشدد قرباني شوي یاست یا د بني اړخ توند لارو څخه د تشدد ویره محسوسوی ، چې څومره ژر ممکن وي د تشدد د مشاورت له مرکز سره تماس ونیسئ. همداډول ، کارکوونکي به د برید وروسته له تاسې سره په پراخه توګه مرسته کوي. د مثال په توګه ، له تاسې سره به پولیسو ، ډاکټر یا وکیل ته ځي. په هر صورت کې د دې نه ځان خبر کړئ: **هغوی دا لیاقت لري چې د جرم مرتکب کسان د محکمې منګولو ته وسپاري!**




## د جنسي هویت ستونزې

که له تاسې سره ستاسې د جنسي هویت له کبله تبعیض کیږي ، نو کولی شی چې د ټولنیز کارکوونکي سره په دغه ځای کې تماس ونیسی. که تاسې غواړی چې خپل شناخت پټ وساتی ، نو د مرکې او مشاورت په مرکز "لایف سټایل" (BBZ) eV کې به په هله او په میګډیبرګ کې به په CSD میګډیبرک eV یا د لیسبین او ګی اتحادیه سیکسني – ان هالټ (LSVD) کې مرسته ترلاسه کولی شی. د دې تماسونو څخه تاسې د دوه اړخیز جنسیت ، همجنسیت ټرانس او انټر هویت (* LGBTI) د موضوعاتو په اړه هم نور معلومات ترلاسه کولی شی. د ذهني تداوي خدمتونه د ذهني ټکان په ستونزو کې هم مرسته وړاندې کوي.



## ديموکراسي او بشري حقونه: زمونږ د ګډ ژوند اساسونه

د کډوال په توګه تاسي په المان کې دفاع او ساتنه غواړئ. زمونږ دولت د سياسي تعقيب او د جګړې او مدني جګړې څخه د ژغورنې لپاره د پناه تضمين ورکوي.

**دغه ساتنه او ژغورنه زمونږ د ديموکراتيکي اساسي قانون د امر برخه ده. په دغه امر کې هغه پراخه اساسي او بشري حقونه شامل دي کوم چې زمونږ د ټولنې اساس جوړوي. په المان کې د خلکو د حقونو تضمين د المان د اساسي قانون 1949، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو نړيواله اعلاميه 1948 او د اروپايي اتحاديې د اساسي حقونو د منشور 2000 سره سم ورکول کيږي. د ماشومانو حقونه د ملګرو ملتونو د 1989 د ماشومانو د حقونو د تړون سره سم ورکول کيږي.**

- المان ديموکراتيکي جمهوريت دی. د هيواد مشر، حکومت او پارلمان په ديموکراتيکي توګه انتخابيږي، او همدغه ډول د 16 دولتونو پارلمانونه او حکمراني او د ښار او ټاونونو سيمه ييز حکومتونه انتخابيږي. ټولې ټاکنې په راز کې ساتل کيږي.

- هر انفرادي تن په خپلواکه توګه خپل نظر څرګندولی شي، د خپلو نظريو او مفکور لپار راټوليدی او مظاهره کولی شي. هر يو تن په ديموکراتيکي ګوندونو، سوداګريزو اتحاديو يا نورو موسسو کې د شامليدو حق لري.

- په المان کې زياتره خلک د خپلو کلتوري، ټولنيزو يا لوبو د علاقو لپاره په کلوبونو کې شامليږي چې هغوی د ټولنې لپاره ګڼ شمير فعاليتونه ترسره کوي.

- د قانون په مخکې ټول يو شان دي. حکومت او مقامات د اساسي قانون او مقرراتو پابند دي. که څوک هم فکر کوي چې د حقونو څخه يې سرغړونه کيږي، هغه په استيناف کولو يا محکمې ته په تللو خپله مدافعه کولی شي او دغه مدافعه هغه د کوم ناوړه حالاتو سره نه شي مخامخ کولی. هر هغه څوک چې مقاماتو ته بېې بېې د بډو ورکولو کوشش وکړو، به هرورمرو د سختې سزا سره مخامخ کيږي.

- سړې او ښځې ورته حقونه لري. د خپل ژوند په تعين او پريکړه کولو، په کار کولو او د استخدام په خپلواکۍ سره په انتخاب کې، او د خپل عوايدو په ويشلو کې  هم دغه ورته حقونه لري. په المان کې ښځې په ټولو مسلکونو کې کار کوي او په سترو منصبونو دي.

- ماشومان حق لري چې په غیرتشدد توګه د هغوی په کوچنیوالي کې پرورش وکړل شي، هغوی د ښوونځی د زده کړې حق لري. پلرونه او میندې د خپلو ماشومانو په زده کړې کې یوشان مسؤلیت لري. مور او پلار په دې کیر مرکزونو، د والدینو په اتحادیو کې په ښوونځیو کې خپل نظر وړاندې کولی او مرسته کولی شي.

- ټول خلک حق لري چې په درناوې ورسره چلند وشي. جسماني زور او تشدد کول منع دي.

- هر یو تن په خپلواکۍ سره د خپل مذهب پیروي او عبادت کولی شي. په المان کې زیاتره خلک پروټسټنټ یا کیتهولک عیسایا دي، او د رخصتۍ زیاتره ورځې او دودونه د عیسایت پراساس لمانځل کیږي. په الماني کلتور کې په پوره توګه یهودي کلتور هم شامل دی. په المان کې نن ډیر مسلمانان هم اوسیږي. همدارنګه نورې مذهبي ټولنې هم موجودې دي او زیاتره خلک پرته له کوم مذهب لرلو هم موجود دي. د عقایدو یا ایدیالوژي پراساس باید د یو تن سره هم تبعیض ونه کړل شي. د نظر په خپلواکۍ کې په مذهبونو یا مذهبي ټولنو د انتقاد کولو حق هم شامل دی.

- د توکم، رنګ، جنس، جنسي میلان، عمر یا ناتوانۍ له کبله باید د هیڅ یو تن سره هم د تبعیض نه کار وانه خیستل شي. هم جنسي باید په المان کې خان پټ نه کړي او کولی شي چې په واده کولو خپلې اړیکې او ملګرتیا د دولت له خوا په رسمیت وپیژني.

دا اساسي حقونه له یو بل سره په درنښت او احترام د چلند کولو یو اساس دی.

- په المان کې په نازي المان (1945 - 1933) کې د الماني جرمونو سره مخالفت یو د پام وړ رول لوبوي. نژاد پالنه او د یهودیانو دښمني یا مخالفت په ټولنیزه توګه رټل کیږي. د یهودیانو د ټول وژنې څخه انکار کول جنایي تیری دی.

دیموکراسي هغه وخت وده کوي کله چې خلک د یو بل په علاقو کې شرکت کوي او دا خوښوي. اصولاً د کډوالو لپاره هم دغه انتخاب موجود دی. خصوصاً زیاتره کلوبونه هغه مهال خوشاله وي کله چې هغوی خپله علاقه څرګندوي. ډیر کډوالو د خپلې مرستې موسسې هم جوړې کړې دي، او له دې کبله په المان کې په سوله ییز ګډ ژوند او له یو بله سره په اړیکې لرلو کې د پام وړ مرسته او همکاري کوي.

# انتخاب شوي ادرسونه او تماسونه

- **AIDS-Hilfe (Halle / Sachsen-Anhalt Süd e. V., Sachsen-Anhalt Nord e. V.)**
  Halle / Magdeburg
  هله ، میکدبیرک

  **Webseite:** http://halle.aidshilfe.de / www.aidshilfesachsenanhaltnord.de
  **Telefon:** +49 345 5821271 (HAL) / +49 391 5357690 (MD)

- **Beratungsdienste und Netzwerke zur Unterstützung von Flüchtlingen / Ankommenden**
  د کډوالو / رارسيدونکو د مرستې لپاره د مشاورت خدمتونه
  **Website:** www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/netzwerke/

- **FlüchtlingsFrauenHaus Halle**
  د کډوالو ښځې کور هله
  **Halle**
  هله
  **Webseite:** www.migration-paritaet-lsa.de/ffh/
  **Telefon:** +49 345 5238115

- **Flüchtlingsrat Sachsen-Anhalt e. V.**
  د کډوالو مشوره زیکسن — ان هالټ ، وي
  **Magdeburg**
  میکدبیرک
  **Webseite:** www.fluechtlingsrat-lsa.de
  **Telefon:** +49 391 5371281

- **Jobbrücke PLUS.**
  **Integration von Asylbewerbern und Flüchtlingen in Arbeit und Ausbildung**
  **Magdeburg**
  جاب بریج پلس. د پناه غوښتونکیو او کډوالو په کار او روزنه کې له تولني سره یوځای کیدنه
  **Website:** www.jobbruecke-chance.de
  میکدبیرک
  **Telefon:** +49 391 7279882

- **Landesnetzwerk Migrantenorganisationen Sachsen-Anhalt (LAMSA) e. V.**
  **Halle**
  د ولایتي شبکې د کډوالو موسسې زیکسن — ان هالټ (LAMSA) اي ، وي.
  هله

  **Webseite:** www.lamsa.de
  **Telefon:** +49 345 17164890

- **Lesben- und Schwulenverband Sachsen-Anhalt (LSVD)**
  **Magdeburg**
  **Website:** www.sachsen-anhalt.lsvd.de
  **Telefon:** +49 391 5432569

  د زنګه بازو او ګی اتحادیه زیکسن-ان هالت (LSVD)
  میګدبیرګ

- **Mobile Beratung für Opfer rechter Gewalt**
  د ښي اړخ توند لاري تشدد د قربانیانو لپاره متحرک مشاورت
  **Halle / Magdeburg / Salzwedel**
  هله ، میګدبیرګ ، سیلزویدل
  **Webseite:** www.mobile-opferberatung.de
  **Telefon:** +49 345 2267100 (HAL) / +49 391 5446710 (MD) /
  +49 3901 306431 (SAW)

- **Netzwerk IQ – Anerkennungs- und Qualifizierungsberatung**
  **Halle / Magdeburg**
  نیت ورک آیي کیو — د تسلیموني او لیاقت مشاورت
  هله ، میګدبیرګ
  **Webseite:** www.sachsen-anhalt.netzwerk-iq.de
  **Telefon:** +49 345 686948-23/-15/-21 (HAL) /
  +49 391 40805-15/-10/-13 (MD)

- **Psychosoziales Zentrum für Migrantinnen und Migranten in Sachsen-Anhalt**
  **Halle / Magdeburg**
  په سیکسني — ان هالت کې د کډوالو لپاره د ذهني او ټولنیز ارخونو مرکز
  هله ، میګدبیرګ
  **Webseite:** www.psz-sachsen-anhalt.de
  **Telefon:** +49 345 2125768 (HAL) / +49 391 63109807 (MD)

- **Verfahrensinformation der Caritas für Asylbewerber in Sachsen-Anhalt (Beratungsstelle zum Asylverfahren)**
  **Halberstadt**
  په سیکسني — ان هالت کې د پناه غوښتونکیو لپاره
  د خیراتي پروسې معلومات (د پناه د بهیر د مشاورت څانګه)
  هل برستټ
  **Webseite:** www.caritas.de
  **Telefon:** +49 3941 609300

- **Willkommensinitiativen Sachsen-Anhalt**
  ویلکم اینیشیتیو سیکسني — ان هالت
  **Website:**
  www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/willkommensinitiativen/

**دا کتابګوټی په دې ژبو کې (هم) دستیاب دی**

*عربي ، انګلیسي ، فرانسوي ، پښتو (پشتو) ، فارسي ، روسي او سربیایي.*

دغه ټولې نسخې په سیکسني — ان هالټ کې د پورټل د الحاق له لارې انلاین دستیاب دي:

**http://www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/erstinformationen-fuer-fluechtlinge/**

## نور معلومات

په المان کې د اوسیدو ، کار ، زده کړې ، روغتیا او نورو موضوعاتو په منځ کې د ژوند د طرزونو په اړه د الحاق نور معاملات په لاندې ادرس ترلاسه کړئ - ***د نوي کومارل شوي کډوالو لپاره د لارښوونې نښه (ساین پوسټ):***

**http://www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/wegweiser-fuer-neueingewanderte/**